دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

او مؤمنان چې کله هم د الله او دهغه د رسول په لور وبلل شي چې رسول دهغوی په مینځ کې فیصله وکړي نو وایي: مونږ بلنه واورېده، او ومو منله، او خلاصون د همدوی په برخه دی. او هغه کسان چې د الله او رسول منته وکړي او له الله نه وډار شي او له سرغړونې څخه یې ځان وژغوري نو همدوی بریمن دي. (النور: ۵۱ - ۵۲ آیتونه)

درس حدیث

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:
څوک چې د خلکو ترمنځ د روغې جوړې کارونه کوي نو الله تعالی دهغه هر کار جوړوي او دهغه د هرې خبرې په بدل کې ورته د یو غلام د آزادولو ثواب ورکوي او مخکیني ګناهونه یې بخښي. (ترغیب)

شهادت درېیم کال، ۳۹ مه ګڼه، پرله پسې ۱۳۹ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د مرغومی ۷ مه د۱۴۳۳ هـ ق د صفر ۴ مه د۲۰۱۱ م د دسمبر ۲۸ مه

افغانها شش جدی را یک روز سیاه و تاریک در تاریخ افغانستان می دانند

این تجاوز آشکار که قیام های مسلحانه در هرکنج و کنار کشور را در قبال داشت، تا ده سال دوام کرد و بعد از شکست فاحش، قشون سرخ افغانستان را در ۲۶ دلو سال ۱۳۶۷ ترک کردند

کابل، پژواک:
کارشناسان، شش جدی رایک روز سیاه و تاریک در تاریخ افغانستان می دانند ومیگویند که اگرخارجی ها افغانستان رافراموش کنند و یا نه، تا زمانی که خود افغانها به توافق نرسند جنگ ادامه خواهد داشت.

روز۶ جدی مصادف با ۳۲ مین سالروز تجاوز قشون سرخ اتحاد شوروی سابق بر افغانستان است، اما تقبیح ازاین روز با گذشت زمان و ادامهٔ جنگ، کمرنگ شده است.

قشون ۱۲۰ هزاری شوروی وقت، مجهز با تانک، جنگنده ها و تجهیزات جنگی مدرن در ششم جدی سال ۱۳۵۸، بر افغانستان تجاوز نمودند و ببرک کارمل را به اریکه قدرت نشاندند.

این تجاوز آشکار که قیام های مسلحانه در هرکنج و کنار کشور رادر قبال داشت، تا ده سال دوام کرد و بعد از شکست فاحش، قشون سرخ افغانستان را در ۲۶ دلو سال ۱۳۶۷ ترک کردند.

در دورهٔ اشغال ده ساله، افغانستان به ویرانه مبدل شد. بیش ازیک میلیون افغان کشته، ده ها هزار

بقیه در صفحه ۴

د حزب اسلامي افغانستان اعلامیه

پرون دسه شنبې په ورځ د مرغومی په شپږمه له کابله خپرېدونکو ماندګار او ملي ارمان ورځپانو دځینو ناتایید شوو راپوروونو په حواله لیکلي چې ولسمشر کرزی د تل په څېر دخپل قومي سیاسته په ګټې اخېستنې یو شمېر سیاسي کړی او څېرې هڅولي چې ملي ائتلاف ته په ورته اقدام لاس پورې کړي. یادو ورځپانو لیکلي چې حزب اسلامي، افغان ملت او د حق او عدالت ګوندونو ترمنځ خبرې اترې روانې دي او ډېر ژر به په کابل کې د یو نوي ائتلاف خبر ورکړي.

حزب اسلامي افغانستان دا خبر په کلکه ردوي او له حقایقو یې لرې ګڼي، حزب اسلامي پدې اړه نه د چاسره خبرې اترې کړي او نه یې له چا سره اړیکې نیولي، بلکې پدې هڅه کې دی چې د ولسمشری تر ټاکنو مخکې یو داسې ایتلاف رامنځته کړي چې د ټول ملت نماینده ګي وکولای شي او روان بحران ته خاتمه ورکړي.

حزب اسلامي د ټولو هغو سیاسي ایتلافونو له جوړښته ډډه کوي چې سمتي، قومي او ژبنی بڼه ولري او دا کار د خپل مرام او منشور خلاف بولي او یقین لري چې دا ډول ایتلافونه دهېواد او ولس په ګټه نه دي.

قرارداد استخراج نفت حوزه دریای آمو با شرکت ملی نفت چین امضا می شود

کابل، رسانه ها:
کابینه حکومت افغانستان به وزارت معدن اجازه داد قرارداد اکتشافات و استخراج نفت حوزه دریای آمو، را با شرکت ملی نفت چین امضا کند.بر اساس این قرارداد، شرکت ملی نفت چین یا سی ان پی سی یکجا با شرکت افغانی وطن گروپ، در مناطق قشقاری، بازارکمی و زمردسای که در ولایت سرپل موقعیت دارند، اکتشافات و استخراج نفت را، آغاز می کند.

اندازه تثبیت شده نفت این منطقه به حدود ۸۷ میلیون بیرل بالغ می شود. این قرار داد،

بقیه در صفحه ۴

د سولې عالي شورا په قطر کې د طالبانو د دفتر له پرانیستلو سره موافق دي

آزادي راډیو:
د افغانستان د سولې عالي شورا وایي، چې افغان حکومت د روانې لس کلنې جګړې ته د پای ټکي د موندلو او د سولې د ټینګښت په خاطر په قطر کې د طالبانو د دفتر له پرانیستل کیدو سره موافق دی.

د سولې عالي شورا په کابل کې د بهرنیو هیوادونو ډیپلوماټیکو استازو ته په استولی سند کې، له طالبانو سره د خبرو شرایط مطرح کړي دي.

د رویټرز اژانس په حواله، په لیک کې د یوولسو شرطونو په منځ کې دا هم شته، چې له طالبانو سره خبرې هغه وخت پیل کیدای شي، چې هغوي د ملکي خلکو له وژلو لاس واخلي، له القاعده سره اړیکي پرې کړي او د افغانستان اساسي قانون چې د ښځو او مدني ټولنو د ازادي ضمانت کوي، قبول کړي.

په دې سند کې راغلي، چې د وسله والو ډلو

پاتې ۴ مخ

د آی ایس آی مقام:
افغانستان د پاکستان نه بېلېدونکې برخه ده

تاند:
د آی ایس آی یو پخوانی چارواکی زاهد حامد ادعا لري چې افغانستان له تاریخي نظره د پاکستان یوه نه بېلېدونکې برخه ده.
دی وایي له ۱۹۷۵ څخه، چې لا شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل نه و کړی آی ایس آی په افغانستان کې فعال و.
دی وایي چې افغانستان یوازې لیتیم نه بلکې ډېر نور قیمتي شیان لري. بدخشان یې له لعلونو ډک دی، پنجشېر له زمردو، شبرغان ګاز لري، سره زر او د نورو ډېرو قیمتي موادو د تریلیونونو ډالرو خزانې لري.
د آی ایس آی دا مقام د افغانستان جغرافیوي موقعیت د یو بل مهم ټکي په توګه یادوی.او وایي روسان ولې افغانستان ته راغلل؟ هغوی د افغانستان د طبیعي زېرمو او ستراتیژیک موقعیت لپاره راغلل.
زاهد حامد وایي: امریکایان هم د ستراتیژیکو هدفونو لپاره راغلي دي.نو پاکستان باید د افغانستان برخلیک په خپل لاس کې واخلي ځکه چې دا موږ و چې شوروي اتحاد مو مات کړ. موږ امریکایان هم ماتولی شو ځکه چې د امریکایانو اکمالاتي لار په پاکستان سېره ده. که د چا خوښه وي یا نه وي پاکستان په افغانستان کې بر لاس لري.د پاکستان امنیتي ادارو دې برلاسی ته بې توجهي نه ده کړې.
زاهد حامد وروسته افغانستان ته د امریکایي پوځیانو د راتګ عواملو ته اشاره کوي لکه د چین او روسیې کنټرولول، پر توډو اوبو او تجارتي لارو تسلط او نور.
زاهد حامد د ښو او بدو طالبانو نظر تاییدوي او وایي چې د پاکستان طالبان بد خلک دي ځکه چې د ده په وینا سي آی اې او د هند استخباراتي ادارې (را) جوړ کړي او له افغانستانه پاکستان ته وراوړي. له دغو بدو طالبانو یعني د بیت الله مسود، حکیم الله او ملا فضل الله له طالبانو سره د پاکستان پوځ جنګېږي خو ښه طالبان هغه افغانان دي چې په افغانستان کې مقاومت کوي، د ناټو او

پاتې ۴ مخ

محمد معروف فروغگر

۶ جدی سر آغاز شکست کمونیزم در جهان
اهداف استراتیژیک روسها از حمله بر افغانستان

نیروهای استعماری بخصوص اتحاد جماهیر فقید روسیه که بعد از به اصطلاح انقلاب ۱۷ اکتوبر می خواست با شعار "کارگرهای جهان متحد شوید "جهان را در حصار گلوبلایزیشن جبر تاریخی کمونیزم قرار داده و بر آن سلطه راند برای پیشبرد اهداف شوم شان در چند ساحه بستر سازی می کنند؛ که یکی از جمله همزیستی مسالمت آمیز و روابط دوستانه است. اتحاد جماهیر فقید شوروی همین که با افغانستان طرح دوستی ریخت و قراردادهای گوناگون بین دو کشور به امضا رسید، افغانستان را ساحهٔ بلامتنازع نفوذ خود دانسته، در هر مجالی که افغانستان می خواست با کشورهای دیگر جهان معاملات دوستانه داشته باشد، به نحوی از انحا از طرف اتحاد شوروی مورد سؤال قرار می گرفت. زمامداران خود کامهٔ افغانستان که به جز خوشگذرانی اندیشه یی دیگری از حکمروایی شان بر افغانستان نداشتند بدون درنظر داشت آیندهٔ کشور شان هر فرمایش روسیه را بدون دلیل می پذیرفتند، اتحاد جماهیر شوروی فقید با گماشتن افراد کهنه کار KGBدر عرصه های انجنیری، زراعت، معدن شناسی، تفحصات نفت و گاز و مشاورین سیاسی می کوشید در رگ و پوست رازهای جیوگرافی و جیوپولیتیک افغانستان لانه کند.

(بقیه در صفحه دوم)

سی و دومین سالروز تجاوز قشون سرخ به افغانستان

اعزامی

صفحه سوم

PROPERTY OF ACKU

پاکستان دې موږ ته د خپلو پوستو نقشې وسپاري "امریکایي قوماندان "

د امریکا پوځ د پاکستاني پوځیانو د وژل کېدو د پېښې په اړه دېرش مخیز راپور چمتو کړی او په خپله ویبپاڼه کې یې خپور کړی دی

کابل، رسنی:
په منځني ختیځ او جنوبي اسیا کې د امریکا د مرکزي قوماندانی عمومي قوماندان جنرال جیمز ماتیس له پاکستانه وغوښتل، د دې لپاره چې د هغسې پېښو مخه ونیول شي چې تېره میاشت وشوه، د خپلو سرحدي تاسیساتو او پوستو نقشې او مالومات نړیوالو ځواکونو ته ور کړي.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې ماتیس په یوه اعلامیه کې، چې پرون خپره شوه د تېرې میاشتې په شپږویشتمه نېټه پر دوو پاکستاني پوستو د ناټو ځواکونو په هوایي

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د جدي شپږمه یا د افغانستان د تاریخ تور باب

د جدي شپږمه هغه ورځ ده چې له نن نه ۳۲ کاله وړاندې په همدې ورځ د پخوانی شوروي اتحاد وحشي لښکرو د افغانستان پر خاوره یرغل، او د افغانانو استقلال او آزادي یې تر پښو لاندې کړه د افغانستان د خاورې هغه رښتوني بچیان چې د اسلام د سپېڅلي دین په پاکه عقیده روزل شوي وو او له وړاندې نه د الحاد او کمونیزم د پوچې عقیدې په خلاف یې مبارزه کوله د افغانستان په گوټ گوټ کې د جهاد سنگرونو ته راووتل او جهاد یې ورسره پیل کړ.

د توحید او الحاد د پیروانو ترمنځ د جنگ او قتال میدانونه گرم شول، هېچا فکر نه کاو چې د شوروي اتحاد غوندې پر مدرنو وسلو سنبال وحشي پوځ په وړاندې دې د افغانستان خالي لاس مجاهدین په دې وتوانېږي چې د افغانستان په لویشت لویشت زمکه کې روسي یرغلگر ځواک له ماتې سره مخامخ کړي، نړی والو په لومړي ځل ولیده چې د شوروي اتحاد د سرو لښکرو په وړاندې چې چېرته یې هم ماته نه وه خوړلې او ډېر هېوادونه یې له کومې تېر کړي وو د افغانستان اتل ملت د مقاومت فولادي دیوال جوړ کړ، ټول افغانستان یې ورته سور اور و گرځاو، ټانکونه یې هم د شگو دیوال ثابت شول او الوتکې هم ونه توانیدلې چې د افغانانو د قربانۍ او جهاد جذبه ساړه کړي، د نړۍ هغه پرمختللې پوځي ځواک چې د امریکا په شمول ټوله نړی یې په ویره کې اچولې وه په افغانستان کې پوره ۹ کاله خپل زور او ځواک په کار واچاو، ټولې شیطاني حربې یې استعمالې کړې مگر له ناکامي او ذلت پرته یې هیڅ ترلاسه نکړ.

لنډه دا چې د توحید او الحاد ترمنځ په دې جنگ کې د الله د لارې سپاهیان برلاسي او د کمونیزم د شیطاني فکر لښکر په گونډو شو، داسې یوه تاریخي ماته یې وخوړه چې نور د خوځېدو نه و، دومره ناتوانه او بې شیمې شو چې له یو درجن څخه زیاتو نیول شویو هېوادونو ته یې چې لدې وړاندې د هغه له اشارې پرته یو جزوي حرکت هم نه شو کولای خپلواکې ور کړه، خو متأسفانه نورو ته استقلال ورکوونکي افغانان پخپله ونه توانیدل چې خپل استقلال وساتي، هغه خلا او تشه ډکه کړي چې هېواد یې د سرو لښکرو د یرغل هدف گرځېدلې و، پکار خو دا و چې افغانانو، نه یواځې دا چې خپل مخکینۍ تېروتنې جبران کړې وای بلکې د خپلې راتلونکي په اړه هم پر داسو مضبوطو پلانونو او منصوبو کار کړی وای چې بیا لپاره بل کوم حریص او پراختیا غوښتونکي هېواد د افغانستان پر حریمونو یرغل ونه کړي، له بده مرغه موږ افغانانو له خپل ماضي نه د عبرت درس وانخست، ددې برعکس هغو کارونو ته مو مټې راونغاړلې چې زموږ د هېواد او عقیدې جرړې کمزورې کولې، د یو فلاحي اسلامي حکومت پر جوړولو مو کار ونکړ، ملي یووالي او ملي استحکام ته مو پاملرنه ونه کړه، هېوادوال مو د قوم، ژبې، رنگ او سمت تر جاهلي شعار لاندې په ډلو ټپلو وویشل، داسې ولایت، ولسوالي، قریه او کلی پاتې نه شو چې هلته د قومیت شیطاني ناره نه وي اوچته شوې.

نظریاتي نظام او ملي یووالي دوه داسې بنسټونه دي چې د هېواد استحکام، پرمختگ، امنیت، پیاوړې اقتصاد، تعلیم، تربیه او نورې ټولې ښېگڼې وربانديې منحصرې دي. کله چې یو هېواد د یو غښتلي عقیدوي نظام او ملي یووالي له نعمت څخه محروم شي بیا هغه کله هم د پردیو له عقیدوي، کلتوري، اقتصادي او فزیکي برغل څخه په امن کې نه شي پاتې کېدلې، زموږ همدا غفلت، بې حسي او د مسؤولیت نه پیژندنه ددې باعث شو چې زموږ د پنځلسو لکو شهیدانو وینې هدر لاړې، د آزادی د قهرمانانو هېواد یو ځل بیا د پردیو ځواکونو په پوځي اډه بدل شو، داسې ورځ او شپه نه تېرېږي چې لسگونه بې گناه افغانان پکې شهیدان او ټپیان نه شي، نه مو ځوانان په امن دي او نه مو بوډاگان، ماشومان او تور سري، هر لوري د ویر او غم تغرې خورې دي، ټوله فضا ویرې ترهې نیولی، زموږ د گل په شان واړه ماشومان د الوتکو او ټانکونو په غرهار او غرمبهار کې د غم شپې ورځې تېروي، خوشالي یې په غم بدل کړې، او له تندي نه یې د پریشانی او خپگان نښې له ورایه ښکاري.

عملاً له یو ناڅرگند مستقبل سره مخامخ یو، واک او اختیار مو سلب شوې، شور او غوغا مو څوک نه اوري، بې گناه وگړي مو د شپې په ړندو عملیاتو کې وژل کېږي، د کور عفت او حرمت مو تالا کېږي، په وحشي سپیانو داړل کېږو، لارې او سړکونه مو په ساعتونو د ترافیک پرمخ تړل کېږي، زموږ له خوښې او یوښتنې پرته زموږ د سرنوشت ټاکلو کارونه پرمخ وړل کېږي.

لنډه دا چې په یوه داسې حساس پړاو کې د ژوند شپې ورځې تېروو چې نه مو پخپلو ځانو څه واک اختیار شته او نه مو پخپل هېواد، زموږ سرنوشت بل چا په لاسو کې اخستي، گاونډي هېوادونه یو ډول د افغانانو سرنوشت ټاکې او غربي هېوادونه بل ډول، یو مو یو لوري راکاږي او بل مو بل لوري، نو ځکه څومره چې د جدي اتفاقي د افغانانو لپاره دردوونکي ده له هغه نه ډېر اوسنی حالت هم د افغانانو لپاره دردوونکي او ځوروونکي دی. اوس په دې خبره غور پکار دی چې له موجوده حالت نه د وتلو لاره څه ده؟ تر څو به د بم او باروتو په لمبو او لوخړو کې وخت تېروو؟ تر څو به زموږ تورسري کونډې او بورې کېږي، تر څو به د وینې په ډنډ کې تړپیږو، تر څو به ترمې ترمې اوښکې تویوو، تر څو به د خویندو، میندو ساندې او زگیروي زغمو، تر څو به د غم او اندېښنو په دریاب کې غوپې وهو، تر څو به د بې اتفاقي او بدامني په لمبو کې سوځېږو، تر څو به د نانزکو په څېر د پردیو په لاسو کې لوبېږو او تر څو به د ذلت ژوند تېروو؟؟ هغه وخت به کله راځي چې د خپل سرنوشت ټاکلو حق پخپله ترلاسه کړو او د پردیو لاسونه له خپل گریوان نه لیرې او خپلې پریکړې پخپله وکړو، له خپلو گاونډیانو او نورو هېوادونو سره د برابرۍ پر بنسټ ترونونه لاسلیک کړو، خپل قیمتي معدنونه او ذخایر وباسو، آرام او خوشال ژوند تېر کړو، د بل چا له محتاجي نه ځانونه خلاص کړو او د ژوند په ټولو ډگرونو کې خپلې پرې کړو پخپله وکړو؟

که موږ افغانان واقعاً لدېنه د نجات لپاره د همت ملاوې وتړو نو ددې قابلیت او توان لرو چې لدې ناوړه حالت نه هم خلاصون ترلاسه کړو او یو ځل بیا نړی والو ته ثابت کړو چې افغانان د تاریخ په هره پړاو کې کولې شي چې د خپل سرنوشت ټاکلو حق پخپله ترلاسه کړي او نړی والو سره د اسلامي شریعت او بین المللي قوانینو په رڼا کې اړیکې ټینگې او په ټوله نړۍ کې د امن او ثبات د راوستو لپاره خپلې مرستې ونه سمپوي.

۶ جدی سر آغاز شکست کمونیزم در جهان

اهداف استراتیژیک روسها از حمله بر افغانستان

(ادامهء از صفحه اول)

اتحاد جماهیر شوروی فقید با کشف نقطه های ضعف زمامداران خود کامه در تشکیلات سیاسی افغانستان راه پیدا کرد و در پهلوی آن حزب دیموکراتیک خلق افغانستان را به رهبری نور محمد تره کی اساس گذاشت؛ نورمحمد تره کی بدون کدام مانع با سفارت روسیه روابط پی هم و مداوم داشت و حتی بعضی اوقات به گفتهٔ خود کمونستهای خلقی هنگامی تره کی را به سفارت دعوت داده می بودند که شاه نیز در آن محفل خوشگذرانی اشتراک می داشت.

دههٔ دیموکراسی که از سال ۱۳۴۳ هـ ش آغاز و تا سال ۱۳۵۲ ادامه داشت، روسها توانستند که بعد از تأسیس حزب به اصطلاح دیموکراتیک خلق افغانستان در ۱۱ جدی ۱۳۴۳ هـ ش مطابق اول جنوری ۱۹۶۵ میلادی در تأسیسات ملکی و نظامی افغانستان، با جابجایی مزدوران خلقی و پرچمی شان اوضاع را در کنترول خود داشته باشند.

جهان شاهد بود که در کودتای اول در افغانستان نیز همین دست پرورده گان روس (خلقی ها و پرچمی ها) سهم مستقیم داشتند که بعدها اکثر وزرای کابینه سردار محمد داؤد خان، والیان ولایات، مدیران تعلیم و تربیهٔ ولایات بیشتر پرچمی و خلقی بودند.

کودتای ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ هـ ش سرآغاز مداخلات استراتیژیک روسیه در افغانستان بود. در همین زمان بود که اردوی افغانستان در دامان کمونستهای خلقی و پرچمی سقوط کرد و مالک بلا متنازع قدرت نظامی در افغانستان شدند.

خلقی ها و پرچمی ها کارخانگی (Homework) شان را در اردو آغاز کردند و زمانی که درک کردند که پست های کلیدی اردو در اختیار شان قرار دارد به پلانگذاری انحصار قدرت آغاز کردند..

حزب کمونست افغانستان (حزب دیموکراتیک خلق و شاخه دیگر آن حزب دیموکراتیک پرچم خلق) بعداز تکمیل این پلان به بهانه گیری ترور میر اکبر خیبر که از جمله کدرهای حزب دیموکراتیک به شمار می رفت دست به کار شدند و در ۷ ثور ۱۳۵۷ طی کودتای خونینی که سردار محمد داؤد خان و فامیلش نیز درین کودتا کشته شدند دست زدند و سرانجام بعد از پیروزی کودتا قدرت سیاسی و نظامی کشور احراز نمودند.

هدف از کودتای ۷ ثور ۱۳۵۷ یکی آن بود که روسیه بتواند نهضت اسلامی در افغانستان رخنه کند، چون می دانست که یگانه رقیب ایدیولوژیکش در افغانستان همین حرکت نوپاست که در اندک زمانی توانسته است در بین گروه های اجتماعی مردم افغانستان نفوذ کند و اصالتش را که همانا قیام نظام اسلامی در افغانستان و نفی و طرد هرگونه ظلم، استبداد، بی عدالتی و نظام های بی دین و لجام گسیخته در افغانستان است، به اهل خبرهٔ جامعهٔ افغانی به اثبات رساند مبرهن است که حملهٔ اول کمونستها بر سران نهضت اسلامی افغانستان بعد از کودتای ۲۶ سرطان ۱۳۵۲ آغاز یافت و بعد از کودتای ۷ ثور ۱۳۵۷، این حملات آن قدر شدت گرفت که کمونستها از مرکز و ولایات روزانه زندانها را از اعضای نهضت اسلامی می انباشتند و فردای آن اثری از وجود آنان به مشاهده نمی رسید، گفته می توانیم که از جمله یک ونیم ملیون مسلمانی که به اثر ظلم و وحشت کمونستهای خلقی و پرچمی و بعد از تجاوز نظامی روسها در ۶ جدی ۱۳۵۸ به شهادت رسیدند شمار معتنابه آنها اعضای نهضت اسلامی افغانستان بودند.

۹ ثور ۱۳۵۷ روزی بود که اعتراض مسلحانه نهضت اسلامی افغانستان علیه نظام کمونستی در اولسوالی زیروک صورت گرفت ولایت پکتیا بود و از همان تاریخ قیام مسلحانه علیه نظام خلقی کمونستی در افغانستان آغاز گردید و یا تشدید این قیام

که نظام کمونستی خیلی از اولسوالی ها و ولایت کشور را از دست دادند و به دست پرتوان مجاهدان راه خدا سقوط کردند، اتحاد جماهیر شوروی احساس خطر کرد که مبادا رژیم دست نشاندهٔ آنان در افغانستان سقوط کند، و آنگاه تمام اهداف و پلانهای آنان در رابطه به افغانستان، منطقه و جهان نقش برآب خواهد شد؛ زینرو طی پلانی طی شده در ۶ جدی ۱۳۵۸ بر افغانستان یورش زدند و یکصد هزار عساکر تا به دندان مسلح اردوی سرخ به کشور ما سرازیر شدند، تا بدین ترتیب بتوانند نظام دست نشانده ایشان را از سقوط حتمی نجات دهند.

روسها از تجاوز بی شرمانه شان در ۶ جدی ۱۳۵۸ علاوه از نجات رژیم دست نشاندهٔ شان اهداف کلیدی دیگر شان را که شامل کردن خاک افغانستان در قلمرو امپراتوری سرخ، سرکوبی کشورهای همسایه و راه یافتن به آبهای گرم بحر هند و از آن جا در حصار کشیدن کشورهای شرق اسلامی (خاور میانه) تعقیب می کردند. روسها از دیر زمان (زمان پتر کبیر) این پلان را داشتند که از طریق دروازهٔ افغانستان که در چهار راهی ویا قلب آسیا قراردارد بیشترین کشورهای آسیایی را تسخیر نموده و از نعم مادی آن در چاقی امپراتوری روسیه کار بگیرند، از لینن تا برژنف همین پلان تعقیب می شد که سرانجام با هسته گذاری های خاینانه شان در جامعه افغانستان به این امر موفق شدند که طی کودتاهای پی در پی نظام دلخواه شان را در افغانستان برپا نمایند.

گرچه روسها تجاوز نظامی شان در ۶ جدی ۱۳۵۸ هـ ش را سرآغاز تشکیل گلوبلایزیشن کمونستی در جهان تصور می کردند و تیوریسن های سیاسی و نظامی آنان درین رابطه گفتنی ها، باب ها و کتابهایی داشتند؛ اما مقاومت نهضت اسلامی افغانستان که به پشتیبانی ملت قهرمان و سلحشور افغان به پیش می رفت طشت خیالهای روسهای وحشی را از بام حقیقت به زیر انداخت و سرانجام روزی فرا رسید که رهبران کمونست روسیه به اشتباهات شان اعتراف کردند، پذیرفتند که در حمله بر افغانستان علاوه بر آن که مرتکب اشتباه شده اند، اردوی شان در آن سرزمین شکستی خورده است که طی قرنهای متمادی از جبران آن عاجز خواهند ماند؛ به گفتهٔ علامه اقبال: "افغان باقی کهسار باقی" افغانستان باقی ماند؛ اما اتحاد جماهیر شوروی چنان از هم پاشید که بجز روسیه، تمام متصرفانش را از دست داد، جهان نفس تازه کشید، کشورهای تازه به استقلال رسیده بیزاری شان از نظام استبدادی کمونستی اعلام نموده هر یک مالک الرقاب خود شدند، دیوار برلین شکست، المانها مجدداً متحد شدند، مجسمهٔ لنین را به دار اویختند و قبر استالین را به محاکمه کشیدند؛ فیدل کاسترو رهبر انقلابی کیوبا رسماً اعلان کرد که دیگر بلاک کمونستی در جهان وجود ندارد، پکت وارسا از هم فرو ریخت.. ۲۶ دلو ۱۳۶۷ هـ ش روزی بود که با رد شدن آخرین سرباز روسی از پل دوستی (!) تاریخ بر تابوت کمونیزم خونخوار آخرین میخ را کوبید و به جهانیان نشان داد که ملتهای کوچک را نباید ضعیف تصور کرد و نباید ابر قدرتهای نظامی این ملل را بازی دست شان پنداشته هر وقت دل شان خواسته باشد حریم آزادی آنان را پامال کنند..

با این همه رو سیاهی هایی که در نبرد با مجاهدان افغان به سطح جهان نصیب روسیه شد؛ باز هم پافشاری داشت که حکومت دست نشانده اش در افغانستان باقی بماند، با قدرت تمام آن را تجهیز می کرد و محموله های پی هم نظامی روسها جهت تقویه حکومت دست نشانده شان در افغانستان سرازیر شد ولی سودی نه بخشید و پایمردی مجاهدین این حکومت را بالاخره ساقط نمودند و بیرق آزادی افغانستان برفراز شهرها، قریه ها و کوه های افغانستان به اهتزار در آمد.

گرچه تحلیگران سیاسی می گویند که با یک قطبی شدن جهان از نظر موازنه قدرت زیانهای بیشتری متوجه جهان بخصوص جهان سوم شد؛ اما نباید فراموش کرد که تک قطبی بودن جهان از لحاظ نظامی به مفهوم آن نیست که حال نوبت امریکاست که چون کمونیزم سرخ روسیه پی متصرفاتش حصار گلوبلایزیشن کپیتالیزم را به پا ایستاد کند؛ بلکه تاریخ ثابت ساخته است که حرص جهانگیری جهانی را می خورد که نیت بلعیدن جهان به نفع خود را داشته باشد، این از مسلمات تاریخ است که سرانجام پایان امپراتوری سرمایه داری را نیز جهان به تماشا خواهد نشست.

یو بام دوه هوا، چرس بند او شراب آزاد!!

محمد خلیل

د شمشاد ټلویزیون د خبر په استناد د تېرې یکشنبې په ورځ په کابل کې د واده په مراسمو کې د شراب د څښلو له کبله ۱۳ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ، دا لومړی ځل نه دی چې د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د شراب د څښلو له کبله دومره کسان وژل شوي وي بلکې لدېنه وړاندې هم شراب د ډېرو نورو افغانانو ژوند هم اخستې او ډېرې افغانان یې د غم په ټغر کېنولي دي.

که په کفري نړۍ کې داسې پېښې رامنځته شي نو دومره ځوروونکي ځکه نه وي چې هغوی نه مسلمانان دي او نه هم د الله تعالی هغه آخري کتاب قرآنکریم او آخري نبي محمد صلی الله علیه وسلم احادیث مني چې په هغو کې په څرګندو ټکو کې د شراب حرمت او پلیتي بیان شوی دی.

لوی الله پخپل کتاب قرآن کریم کې شرابو ته پلیت او شیطاني عمل ویلي دي او محمد صلی الله علیه وسلم هم د خبائثو د مور په نوم یاد کړی دی.

ډاکټرانو د طبي څېړنو په نتیجه کې شرابو ته ام الامراض (د مرضونو مور) ویلي دي.

د شرابو تاوانونه د لمر په څېر ښکاره دي، د پیسو له تاوان نه پرته بدني، عقلي، عصبي، ټولنیز او نور ګڼ زیانونه لري چې تر ټولو لوی تاوان یې د انسان ژوند ختمول او یا هم دومره نشه کول دي چې متیازې هم په پرتوګ کې کوي، د ښه او بد تمیز نه شي کولی، خپل مور او پلار نه پیژني، ان تر دې چې د نشې په حالت کې د انسان په ژوند، مال او ابرو هم حمله کوي، خو متأسفانه د افغانستان په اسلامي هېواد کې شراب ښکاره خرڅېږي، هر څوک یې په اساني ترلاسه کولی شي. د واده، کوژدن او نورو محفلونو کې ښه آزاد استعمالېږي. دا ټول په همدې حقیقت دلالت کوي چې د اسلامي جمهوریت چارواکي د شرابو حرمت او ناروااوالي ته چنداني پاملرنه نه کوي او ددې په خرڅلاو یې کلک بندیزونه نه دي لګولي، که نه نو دا څنګه کېدلی شي چې هر څوک یې وغواړي په اساني ترلاسه او استعمال یې کړي.

په رسنیو کې دا خبرونه زیات خپرېږي چې د افغانستان په فلانکی ولایت او فلانکی ولسوالي کې تریاک او چرس ونیول شو، دا خبرونه هم خپاره شوي چې د نشه یي توکو قاچاق کوونکو ته دومره کاله د بند سزا واوروله شوه خو تر اوسه په رسنیو کې دا خبر چېرته نه دی ورکول شوی چې په فلان ولایت یا ولسوالي کې شراب خرڅوونکی نیول شوي او یا هم ورته سزا ورکول شوې ده. د حیرانتیا خبره دا ده چې د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د یو بام دوه هوا قانون چلېږي، د تریاکو او چرسو خرڅوونکي خو نیول کېږي مګر د شرابو خرڅوونکو او استعمالوونکو ته ښکاره اجازه ورکول شوې او هر څوک یې په آساني ترلاسه کولی شي، حال دا چې د چرسو تاوان له شرابو نه ډېر کم دی، د چرسو معتادانو ته د قید او بند سزا، یا هم نقدي جرمانه ده خو د شرابو معتادانو ته د اتیا درو وهلو صریح حکم ورکول شوې.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت اساسي قانون اسلامي دی او په هغه کې دا ماده هم ځای شوې چې کوم څیزونه د اسلام په دین کې حرام وي هغه منع دي، خو ډېر افسوس چې په افغانستان کې د شرابو په څېر څرګند حرام څیز، نه یواځې دا چې په ښکاره ډول په بازارونو کې خرڅېږي بلکې په پوره فخر د محفلونو ښکلا هم ګرځېدلې دی.

د الله له دین سره به لدېنه غټه دښمني نور څه وي چې داسې یو حرام څیز دی د خپلو حجرو، محفلونو او هوټلونو سینګار وګرځول شي چې لوی الله هغه ته نجس او څښونکي ته د اتیا درو وهلو امر کړی دی، او هغه چارواکي به څنګه د خدای له سختې نیونې او مواخذې څخه په امان پاتې شي چې د شرابو په څېر د خطرناکو حرامو مشروباتو د مخنیوي لپاره لازم تدابیر نه نیسي. چارواکی دې په پوره غور واوري چې د خدای نیونه ډېره سخته، او ناڅاپي وي چې هېڅوک ترېنه ځان نشي خلاصولی. چارواکي دې له خدای نه ووېرېږي او خپل هغه مسؤولیت دې ترسره کړي چې لوی الله دهغوی په اوږو اچولی دی، پخپل هېواد کې دې د غرب د شیطاني تهذیب او رسم رواج پرځای اسلامي تهذیب او کلتور رائج کړي که نه نو هغه وخت به هم راورسېږي چې د اسلام سپین سترګي دښمنان به اسلامي افغانستان کې له شرابو سره د خنزیر غوښه هم د خرڅلاو بازار ته راوباسي او ددې ترڅنګ هغو نورو غیر اسلامي رسم او رواج ته هم وده ورکړي چې غربي نړۍ یې په افغانستان کې رائجول غواړي. (الله دې نه کړي)

سی و دومین سالروز تجاوز قشون سرخ به افغانستان

اعزامی

سی و دو سال قبل از امروز به تاریخ شش جدی ۱۳۵۸ خورشیدی کشور عزیز ما افغانستان مورد تهاجم وحشیانه قشون اتحاد جماهیر شوروی وقت قرار گرفت. این تهاجم زمانی به وقوع پیوست که تقریباً یک سال و نیم قبل از آن به تاریخ ۷ ثور ۱۳۵۷ جناح های وابسته به حزب دموکراتیک خلق افغانستان طی کودتایی به حمایت کرملین به قدرت رسیدند. گردانندگان رژیم خلق و کودتاچیان ۷ ثور با راه اندازی یکسری فعالیت های سیاسی در دهۀ دموکراسی به عنوان مهره های چپی، در میان اقشار و طبقات مختلف، شناخته شده بودند و دشمنی و عناد عقیدتی آن ها با دین و فرهنگ مردم مسلمان افغانستان موجب شد که در فردای سقوط مرگبار رژیم داود و اعلان پیروزی سیاسی احزاب خلق و پرچم، مخالفت و قیام عمومی مردم در برابر رژیم نوپای و وارداتی خلقی ها آغاز گردد.

کودتاچیان ۷ ثور در بدو امر چنان می پنداشتند که با استفاده از نفوذ شان در قطعات اردوی ملی در قدم اول ارگ ریاست جمهوری را تصرف می کنند و با به قتل رساندن داود خان و اسلالۀ او، دیگر هیچ مخالفی در برابر آن ها قد علم نخواهد کرد و یا به قول معروف رفقای خلقی، انقلاب ثور برگشت ناپذیر بوده و مخالفت در برابر رژیم خلق به مثابه کوبیدن سر به سنگ می باشد.

مگر وقایع بعدی پیش از دو سال به اثبات رسانید که انقلاب ثور و خیلی از انقلاب های باطل دیگر، به بسیار ساده گی از راه و روش قبلی خود برگشت نموده و به اصطلاح در مسیر ارتجاع گام گذاشتند. انقلابیون ۷ ثور که در ظاهر با عقاید باطل شان، شعار حمایت و دستگیری از طبقات فقیر و مستضعف را سر می دادند، به وضوح دریافتند که زمزمه چنین شعار های دهن پرکن و میان تهی، نیازمندهای روانی و خواست های معنوی آن ها را تلافی نکرده و جایگاه فکر و عقیده همچنان خالی باقی است. همچنان انقلابیون به این حقیقت پی بردند که برای کسب و بقای اقتدار سیاسی تنها تصرف قصر ریاست جمهوری و تسخیر شهر کابل و به قتل رساندن و حبس چند نفر حکام رژیم قبلی کافی نبوده و برای حکومت کردن و فرمان روایی بر مردم ایجاب می کند که قلب های خلق ها را تصرف و روحیات آن ها مبنی برهم عقیدتی و همدلی حکام با رعایت تسخیر گردد تهاجم قشون سرخ در ۶ جدی سال ۱۳۵۸ بر افغانستان در زمانی صورت گرفت که رژیم کودتایی تره کی – امین با گذشت تقریباً یک سال و نیم، روز تا روز با مخالفت و قیام های مردم روبرو شده و بر لبۀ پرتگاه زوال نزدیک شده می رفت و نیروهای دفاعی و امنیتی رژیم با افشا شدن چهرۀ اصلی انقلابیون و با درک مسؤولیت های ایمانی و نزدیک شده می رفت و نیروهای دفاعی و امنیتی رژیم با افشا شدن چهرۀ اصلی انقلابیون و با درک مسؤولیت های ایمانی و ملی از صفوف اردوی ملی جدا شده و جوخه جوخه به نیروهای مقاومت علیه رژیم خلقی می پیوستند هماهنگی و هم صدایی روز فزون نیروهای امنیتی با مجاهدین از یک سو و اختلافات عمیق میان جناح های مختلف حزب دموکراتیک خلق از سوی دیگر باعث گردید که سران رژیم خلقی برای بقای خود از مقامات کرملین درخواست کمک مستقیم و اعزام قوای نظامی به افغانستان را نمایند. روس ها بنابر نقشۀ از قبل طراحی شده، به این تقاضای رژیم کابل لبیک گفته و به تاریخ ۶ جدی ۱۳۵۸ به یک صد هزار سرباز تا دندان مسلح قشون سرخ دستور دادند که با یورش نظامی از راه های هوا و زمین، خاک و فضای افغانستان را اشغال نمایند و با سرکوب کردن مخالفانی رژیم کابل، در ظرف چند هفته و یا چند ماه فاتحانه دوباره به شوروی بر گردند.

جای تعجب اینست که قشون سرخ با تهاجم به افغانستان در اولین مانور نظامی خویش علاوه از ایجاد خوف و رعب در قلب های مردم، قبل از سرکوبی مخالفان به سراغ رئیس وقت رژیم کودتایی (حفیظ الله امین) شتافته و نخست او را به شیوه خیلی اهانتبار مسموم نمودند و بعداً به قتلش رساندند و زمینه را برای روی صحنه آمدن ببرک کارمل که چندی قبل با فرار از سفارت افغانستان در پراک، در مسکو به سر می برد، مساعد ساخت حقیقت امر این بود که دعوت از قشون سرخ غرض تجاوز به افغانستان در زمان تره کی صورت گرفته بود و با کشته شدن وی امین داعیه او را دنبال کرد و موجودیت عساکر روسی را به افغانستان چون سپری می دانست برای حفظ و بقای رژیم خلقی، اما کرملین با ایجاد ائتلاف میان جناح پرچم حزب خلق و خلقی های وفادار به تره کی تحت رهبری ببرک کارمل، نخست امین را نزد رهبر کبیرش فرستاد و همزمان با آن در شام ۶ جدی ۱۳۵۸ با اعلام سقوط رژیم امین از رادیو تاشکند به فریکانس رادیو کابل، نخست خود را رهبر حزب دموکراتیک خلق و رئیس رژیم کابل معرفی نمود و بعد به سواری هلیکوپتر روسی از مسکو به کابل مواصلت کرد.

با آغاز قیام عمومی مردم افغانستان علیه تهاجم قشون سرخ و رژیم دست نشانده ای کارمل جهاد سرتاسری در مرکز و اطراف و اکناف کشور علیه اشغالگران و غلامان آن ها شدت اختیار کرد و تعبیر کرملین از اعزام قوا برای سرکوبی مخالفین رژیم خلقی در مدت کوتاه، برعکس ثابت گردید و قشون سرخ بجای چند ماه، مدت نه سال با مجاهدین مسلمان دست و پنجه نرم کرد و در نهایت با تحمل تلفات زیاد جانی و خسارات هنگفت مالی و با شهید نمودن یک ملیون و نیم افغان بی گناه به شکست تاریخی و فضیحت بار خویش در مقابله با مجاهدین اعتراف نموده در ۲۶ دلو سال ۱۳۶۷ خاک افغانستان را ترک کردند.

در نتیجه حادثه ۶ جدی ۱۳۵۸ ملت افغان، سخت ترین و نکبت بارترین مصائب را تحمل کردند و این حادثه المناک تا قرن های دیگر فراموش نسل های بعدی این مرز و بوم نخواهد شد و خاطرۀ این روز به عنوان یک واقعه نامیمون ثبت اوراق تاریخ افغانستان گردید.

ولی حادثۀ ۶ جدی علی رغم نحس بودنش برای ملت افغان افتخارات بزرگ و فراموش ناشدنی ای را نیز آفرید، زیرا همزمان با اشغال نظامی افغانستان توسط قشون سرخ جذبه ایمانی و غیرت ملی افغان ها به جوش آمده و با بستن کمر همت علیه تجاوز و الحاد، قشون شکست ناپذیر شوروی را شکست دادند و انقلاب برگشت ناپذیر را به برگشت مجبور کردند و با مقاومت نه سالۀ خویش با سرافکندگی راه فرار را در پیش گرفته و از کشور ما اخراج شدند و این واقعه به عنوان افتخار بزرگ و جاودانه برای ملت افغان ثبت تاریخ گردید...

بقیه در صفحه چهارم

نگاهی بر شش جدی (تجاوز روسها)

تورن غلام سخی

سی و دو سال قبل از امروز افغانستان آزاده را میخواستند با استراتیژی خائنانه که داشتند اشغال نمایند. روسها از هوا و زمین با غرش تانکها و نفیر گلوله ها و صداهای مهیب جت ها و هلیکوپتر گنشیپ ها بر تمام قلمرو این سرزمین یورش بردند، مزدوران حکومت با رقص و پایکوبی از این مهمانان ناخواسته استقبال نمودند و مداخله ارتش روس را که ابرقدرت آنزمان بود بفال نیک گرفتند و آنرا دال بر پیروزی شان در برابر مجاهدان مؤمن و ملت مسلمان ما میدانستند. ببرک کارمل با گروه وابسته به پرچم و هواداران خلقی و مزدوران حکومتی شان به پذیرایی این مهمان ناخواسته برآمدند و مردم را به بهانه و فریب اینکه نظام نوین در افغانستان حاکم می شود و خائنین وطن را به محاکمه میکشانند به بقای عمر حکومت شان میفزوند.

ولی مردم این خطۀ مردخیز که آزادی و آزادگی را از نیاکان به ارث برده اند، و هر نوع یورش را در وطن شان به مشابه اشغال تلقی میکنند با دستان خالی در برابر این طاقت عظیم با پایمردی و متانت با قوت نابرابر ایستادگی نمودند، که این رمز اتکا به خدا و شجاعت در برابر دشمن مردم بیدفاع را به قلعه های پیروزی رسانید. نتایج این ما.اخله و تجاوز چنان شد که فلسفه کمونیزم در مستوی جهانی از صفحه تاریخ زدوده شد. دیوار برلین فرو ریخت، کشور شوراها (شوروی) به پانزده دولت تقسیم گردید. جنگ سرد خاموش شد، کشورهای محکوم آسیای میانه به آزادی رسیدند، ماتریالیزم در برابر اسلام شکست جهانی را متحمل شد. امریکا در سطح جهان یکه تاز میدان شد، کشورهای بلوک شرق در پیمان وارثا کاملاً از هم جدا گردید، سیطره نظام و امپراطوری شوروی در تمام دنیا محکوم به زوال شد، تشخص اسلامی و سیاسی افغانستان در جهان تثبیت گردید. خیال رفتن به آب های گرم بخواب ابدی مبدل شد، بیداری دینی در تمام سطوح پرتو افگند، جوغه جوغه ملت ها به اسلام گرویدند، شکوه و عظمت از دست رفته مسلمانان دوباره رونق گرفت.

نظام کمونیستی با فلسفه مارکیزم لیننزم بطور ابد از افغانستان رخت بست، هواداران و سردمداران آن از وطن آبائی شان متواری شدند.

مگر افسوس ! که اینهمه پیروزی ها، افتخارات و قهرمانی ها که حماسه های در تاریخ افغانستان و جهان میباشد نسبت مداخله های خصمانۀ کشورهای همسایه و تجاوزگران جهانی بخاطر توسعه ساحه نفوذ فکری و عقیدتی شان در صدد ایجاد تفرقه و بدنامی مجاهدین برآمدند. دشمنان اسلام و بشریت که این منظره زیبای خداداد را تحمل نداشتند با دسایس و استخدام غلامان شان ضربات کوبنده و جبران ناپذیر بر پیکر وحدت ملی ما وارد نمودند، که تا پایان تاریخ دوام خواهد داشت. پیروزی ها به یأس مبدل شد، جهاد به جنگ تبدیل، آبادی ها به ویرانی رفت، مجاهدان با هم افتادند، اسلام را به قیافه جنگ و برادر کشی، قساوت بیرحمی به دنیا معرفی نمودند. تمام اساسات فرهنگی، دینی، اجتماعی، اقتصادي و اسلامی ما به خاک مبدل شد، دیری نگذشت که سرزمین ما در آتش دیگری سوخت، هزاران فرزند این وطن دور از خانه و کاشانه شدند، صدها نفر در بندرگاه های ترکیه، یونان و اندونیزیا، آسترالیا در آبها غرق شدند. از شرهیولای جنگ هزاران نفر بی خانه، هزاران پدر بی فرزند، و هزاران فرزند بی پدر و هزاران مادر در سوگ فرزندان خود نشستند. آشوب ملی سراسر این سرزمین را در گام خود فرو برد. افرادیکه از ترس آتش جنگ به فرسخ ها از وطن دور رفته بودند و منافع خود را در چنین جنگ ویرانگر و خانمانسوز میدیدند با درامۀ دیگر وارد این سرزمین شدند و قیادتیکه زیبنده شأن مجاهدان وارسته بود، وارث تاج و تخت ایشان شدند، قیافه ها تغیر کرد. فرهنگ ها تبدیل شد، نظام ها فرو ریخت، فقر دامنگیر شد... مخدرات و مسکرات جهان گیر شد، رسانه ها مبتذل شد، حجاب ها از هم دریده شد، رشوه ستانی به حد اعظمی رسید، فساد همه فضا را اشغال نمود، بیداد از دیوارها بلند رفت، قتل و کشتار و ویرانی تمام این سرزمین را فرا گرفت، حقوق بشر و حقوق مدنی، حقوق انسانی ما را پایمال نمود، کشور ما در زیر سیطره بیگانگان قرار گرفت، مداخلات بیشتر از بیش قویتر و سریعتر گردید، وحدت ملی از هم پاشید، قوم، زبان، مذهب و سمت برهمه افتخارات ما سایه افگند، خطر تجزیه این کشور تاریخی هر روز قویتر گردید، تحلیل اوضاع و احوال در نتیجه تجاوز و مداخله به درازا می کشد که از حوصله این مقال بیرون است اینهمه بدبختی ها از اثر تجاوزات همسایه و کشورها بزرگ جهان بر افغانستان و همچنان از اثرات تجاوز شوروی بر کشور ما بوده است.

که بالاخره قوتهای مداخله گر و متجاوز در افغانستان بشکست مواجه می شوند. که تاریخ گواه بر این مدعاست، راه نجات از جنگ و پایان آن فقط و فقط احیا وحدت ملی افغانستان اتفاق و برادری، عدالت و مساوات بین ساکنین به حق این دیار میباشد و بس.

سی و دومین سالروز تجاوز ...

پیام حادثه ۶ جدی برای مردم افغانستان، پیام قیام، جهاد و تحرک ملت افغان در برابر طواغیت است، در این روز افغان ها مانند گذشته زیر بار اجانب نرفته و با قیام حماسه آفرین شان، پوزهٔ اشغالگران را به خاک مالیدند ۶ جدی سال ۱۳۵۸ در حقیقت تبلور حماسه مقاومت و جهاد است و دادن شکست به قشونی که در طول فعالیت های رزمی اش واژهٔ شکست را نمی شناخت، ولی در افغانستان با این واژه آشنا شد و طعم تلخ تجاوز را چشید و پس از نه سال جنگ به شکست فاحش مواجه شد که در نتیجه آن امپراطوری شوروی به مرکزیت ماسکو، دیگر یکی از دو ابر قدرت اول جهان به شمار نمی رود.

مع الاسف که شکست دهندگان قشون سرخ اتحاد شوروی سابق در فردای انقراض امپراطوری کمونیزم و شکست روسها، همان افتخارات عظیم را پاس نداشته و با درگیر شدن در مسایل ذات البینی و خانه جنگی های خانمان سوز، ثمره و دستآورد پیروزی در برابر اشغالگران را لمس نکرده و ملت افغان تا سه دهه پس از آن تاریخ در آتش جنگ های داخلی می سوزند و پس از تحولات بن در سال ۱۳۸۰ شاهد ورود نیروهای ناتو بنام "همکاری و حفظ امنیت" در کشور شان بودند، مگر این نیروها نیز پس از ده سال جنگ با مخالفین مسلح، در صدد خارج شدن از افغانستان و انتقال مسؤولیت های امنیتی به نیروهای دفاعی داخلی اند و هنوز کدام روزنهٔ روشن صلح و ثبات و امنیت در کشور ما به چشم نمی رسد.

افغانها شش جدی را یک روز...

تن معلول و میلیونها تن مجبور به مهاجرت به کشور های همسایه و سایر ممالک شدند.

مقاومت ملت قهرمان افغانستان، خسارات سنگین مالی و جانی را بر متجاوزین نیز وارد نمود. طبق آمار نشر شده در این دوره، بیش از ۱۴۴۵۰ سرباز شوروی کشته، ۴۹۹۸۰ زخمی و ۳۳۰ تن لادرک گردیدند.

جنرال بوریس گروموف، آخرین افسر ارتش شوروی بود که از پل آمو عبور کرد و به عقب نگریست.

شماری از تحلیلگران میگویند که افغانستان هنوز هم دامنگیر جنگ بوده، افغانها در مورد آیندهٔ خود هراس دارند که سرنوشت شان؛ بعد ازسال ۲۰۱۴ میلادی چه خواهد شد؟ اما یگانه راه حل این است که افغانها سرنوشت خود را خود رقم بزنند.

وحید مژده کارشناس مسایل سیاسی به آژانس خبری پژواک گفت که مشکل افغانستان، تنها از طریق افغانها حل شدنی است و تازمانی افغانها در بین خود به توافق نرسند؛ هیچ نیرو نمیتواند مشکل این کشور را حل کنند.

وی اضافه کرد: "نه روس توانست با هزاران عسکر خود در افغانستان امنیت بیاورد و مردم را به پیروی از دولت وا دارد و نه هم امریکا با ده ها هزار عسکر توانست در طول ده سال امنیت را تامین کند، امنیت در افغانستان، بسته به توافق بین افغانها است."

موصوف می گوید که هنوز هم جناح هایی هستند که همدیگر را نمی پذیرند و مخالفین مسلح دولت نیز راه مشخص را برای صلح مطرح نکرده اند و همواره عکس العمل گنگ در موضوع صلح با دولت دارند.

مژده گفت: "اگر خارجی ها افغانستان را فراموش کنند و یا نه، تا زمانی که ما بین خود به توافق نرسیم جنگ ادامه خواهد داشت."

او ششم جدی را سر آغاز تمام مصیبت ها در افغانستان خوانده، علاوه میکند که در آن روز افغانستان مورد تجاوز مستقیم قرار گرفت وبیطرفی خود را از دست داد و این تجاوز بعد ها زمینه را برای کشور های دیگر مساعد ساخت تا در امور داخلی افغانستان مداخله کنند.

در جریان حضور ده ساله نیروهای بین المللی در افغانستان در نتیجه عملیات شبانه و جنگ با مخالفان مسلح دولت بیشترین تلفات و صدمه بر مردم ملکی وارد شده است.

سازمان ملل متحد در گزارش ماه میزان سال جاری با ابراز نگرانی از تلفات مُلکی گفته بود که در سه ماه گذشتهٔ آن، ۹۷۱ تن از مردم ملکی در افغانستان به قتل رسیده اند، که سه چهارم (۷۷ در صد) آن توسط طالبان مسلح و۱۲ درصد آن توسط نیروهای ناتو، به رهبری امریکا بوده است.

حال سوال اینجاست که بعد از سال ۲۰۱۴ (خروج نیروهای بین المللی از افغانستان) حالت افغانها و بخصوص مردم ملکی چه خواهد شد؟ آیا مثل اشغال قشون سرخ با وجود متقبل شدن تلفات و خسارات شدید به فراموشی سپرده خواهد شد؟

شهنواز تنی کارشناس مسایل نظامی و وزیر دفاع زمان حکومت داکتر نجیب الله میگوید که امریکا بعد از ۲۰۱۴ نیروهای افغان را با مخالفین در مقابل هم قرار خواهد داد و حضور خود شان در جنگهای روبرو با مخالفین کمرنگ خواهد شد، اما مراکز اصلی شان باقی خواهد ماند.

تنی افزود: "قسمی که غربی ها از دوستان مجاهد خود، بعد از خارج شدن روسها از افغانستان حمایت نکردند و کشور درگیر جنگهای داخلی شد، از نیروهای فعلی افغان هم حمایت کامل نظامی نمی کنند زیرا به آنها اعتماد ندارند."

وی آمدن نیرو های ناتو را ادامه پلان قبل از تجاوز قشون سرخ به افغانستان خوانده، میگوید: "امریکا و متحدانش با وجودی که اعلان کرده اند که بعد از سال ۲۰۱۴ حضور نظامی خود را در افغانستان به پایان می رسانند؛ اما خلاف این عمل خواهند کرد و نیروهای شان در کشور باقی خواهد ماند."

اما جامعهٔ جهانی میگویند که آنها بعد از خروج نیروهای شان در سال ۲۰۱۴، افغانستان را تنها نگذاشته، بلکه این کشور را از حیث اقتصادی، باز سازی و تحکیم حکومتداری کمک و تقویت خواهند نمود.

یکی از این تعهدات در کنفرانس دوم بُن در ماه قوس امسال بود که جامعهٔ جهانی توافق نمود که افغانستان را بعد از سال ۲۰۱۴ برای ده سال دیگر نیز، کمک می نماید.

برخی دیگر به این باور اند که در وقت اشغال افغانستان توسط شوروی سابق، افغانها وحدت ملی داشتند، اما حالا این وضعیت تغییر کرده است.

جاوید کوهستانی کارشناس دیگر مسایل سیاسی می گوید: "تفاوت در حالت مردم در زمان اشغال کشور توسط قشون سرخ و حالت فعلی این است که در آن زمان کشور ما از امکانات بلند بشری و مردمی برخوردار بود، وحدت ملی در بین مردم تامین بود، با وجود پائین بودن سطح زندگی روحیه آزادی خواهی بین مردم وجود داشت... اما حالی زندگی مادی جای معنویت را گرفته و معنویت از افکار بسیاری افغانها رخت بر بسته است."

موصوف اضافه کرد که اشغال، اشغال است چه در ریفورم کمک های بشردوستانه و چه در تقاضای یک دولت رسمی و یا غیر رسمی باشد.

قرارداد استخراج نفت حوزه ...

دومین معامله بزرگ استخراج معادن افغانستان توسط یک شرکت چینایی می باشد.

افغانستان و شرکت دولتی فولاد چین در سال ۲۰۰۸ قرارداد استخراج مس عینک لوگر را امضا کردند.

قرار است وزیر معادن افغانستان به روز چهارشنبه قرارداد جدید با شرکت نفت چینایی را امضا کند.

بر اساس مسوده این قرارداد که دیروز مورد بررسی کابینه افغانستان قرار گرفت، شرکت ملی نفت چین از استخراج نفت افغانستان ۱۵ درصد حق الامتیاز می گیرد و ۲۰ درصد مالیه به حکومت افغانستان خواهد پرداخت.

همچنان از تیل استخراج شده، بیش از ۷۰ درصد آن به افغانستان می ماند.

حکومت افغانستان می گوید، قرارداد اخیر با چین، اولین قرارداد جامع افغانستان در بخش اکتشافات و استخراج نفت است که در آن، احداث تصفیه خانه های تیل هم شامل است.

براساس مسوده این قرارداد، جانب چینایی قرار است برعلاوه برمه کاری در ولایات سرپل و فاریاب، کارخانه های تصفیه نفت را نیز در این دو ولایت احداث کند.

بر اساس تخمین های بین المللی، شش حوزه بزرگ نفت و گاز در افغانستان وجود دارند.

قابل ذکر است که شرکت های چینایی و هندی در استخراج معادن افغانستان علاقمندی بیشتر نشان داده اند در حالی که شرکت های غربی، به دلیل نا امنی های موجود در افغانستان در این بخش، متردد بوده اند.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

عبدالمطلب بیگ د ۱۹۹۰ کلونو پر مهال د طالبانو په ضد جنګیدلی و

واشنګټن پوسټ:

واشنګټن پوسټ لیکي، د افغانستان د ولسي جرګې یو غړی، چې د طالبانو پر ضد جنګیدلی و، له نولسو نورو کسانو سره د یکشنبې په ورځ په یوې خان وژونکې حمله کې ووژل شو.

ورځپاڼه د افغان مقاماتو په حواله وایي، د دغې انتحاري حملې هدف د ولسي جرګې غړی عبد المطلب بیګ و، چې د ۱۹۹۰ کلونو پر مهال د طالبانو په ضد جنګیدلی و.

د تخار د والي مرستیال فرید زکي واشنګټن پوسټ ته ویلي، موږ یو جهادي قومندان له لاسه ورکړ.

ورځپاڼه زیاتوي، چې د تخار په مرکز تالقان کې د شوي ځان وژونکې حملې په قربانیانو کې یو دولس کلن هلک هم شامل دی.

د مطلب لیکونکی وایي، دا حمله د تخار په داسې سیمه کې شوې، چې اکثره اوسیدونکي یې ازبک او تاجکان دي او وسله وال طالبان چې په جنوب کې زیات خپل شوي اوس په شمال کې زیات فعالیتونه کوي.

واشنګټن پوسټ د ولسمشر کرزي څخه په نکل وایي، د تخار د وروستي حملې قربانیان بې ګناه ملکي وګړي وو، چې په مذهبي مراسمو کې راغونډ شوي وو.

حامد کرزي ویلي، دا حمله د دې څرګندویه ده، چې د افغانستان د خلکو دښمنان څومره سپک او شریر دي.

نیویارک ټایمز:

نیویارک ټایمز بیا په خپله وروستۍ ګڼه کې په دې اړه لیکلي، که څه هم چې طالبانو او نه هم کومې بلې ډلې تراوسه د تخار د حملې مسوولیت منلی دی خو د دغې برید شک پر طالبانو کیږي، چې اکثره وخت یې دولتي مقامات ترور کړي دي.

نیویارک ټایمز په دې ترڅ کې په کابل کې د تیرې سپټمبر میاشتې د انتحاري حملې یادونه کوي، چې په نیتجه کې د سولې د عالي شورا مشر او پخواني ولسمشر برهان الدین رباني ووژل شو.

د مقالې لیکونکی وایي، که چېرته د تخار وروستۍ ځان وژونکې حمله طالبانو کړې وي، نو دا به په روان کال د هغوی له خوا په همدې ولایت کې دوهمه لویه حمله وي.

په تیرې می میاشت کې یوه ځان وژونکي چې د پولیسو یونیفارم یې په تن و، په تخار کې د والي په دفتر کې ځان والوزوه، چې له امله یې د شمال زون د پولیس ستر قومندان جنرال داوود داوود او د تخار د امنې قومندان شاه جهان نوري ووژل شول.

خو نیویارک ټایمز وایي، په تخار کې د دولت وسله وال مخالفان یوازې طالبان نه دي بلکې د ورځپاڼې په وینا په دې ولایت کې او شاوخوا سیمه کې حقاني شبکه او د ازبکستان اسلامي نهضت هم فعالیت لري.

د سولې عالي شورا په قطر کې ...

مشران په پاکستان کې دي، نو له طالبانو سره د سولې هره پروسه باید د پاکستان ملاتړ ولري.

د سولې عالي شورا ویلي، چې افغان حکومت په سعودي یا ترکیه کې د طالبانو لپاره د سیاسي دفتر له پرانیستل کیدو سره موافق دی خو له دوحې سره هم مخالفت نه لري.

د سولې د عالي شورا د بهرنیو اړیکو رییس اسمعیل قاسمیار ازادي راډیو ته وویل:

"موږ قطر هم منو خو په دې شرط چې یوازې د مذاکرو لپاره یو ځای وي نه د طالبانو لپاره د سفارت په ډول."

په وروستیو کې داسې رپوټونه خپاره شول، چې امریکا او قطر د المان په مرسته د قطر په مرکز دوحه کې د طالبانو لپاره د سیاسي دفتر له پرانیستل کېدو سره پټه موافقه کړې ده.

دې مسالې د کابل د حکومت شدید عکس العمل وپاراوه او د ولمسشر کرزي ویاند پر دې انتقاد وکړ، چې حکومت له طالبانو سره د خبرو د پروسې له ځینې برخو بې خبره پاتې شوی دی.

اوس د افغانستان حکومت له طالبانو سره د خبرو لپاره دا شرط ایښی، چې هېڅ هېواد به د افغانستان له رضایت څخه پرته په دې پروسه کې مداخله نه کوي.

د ولسمشر ویاند ایمل فیضي ازادي راډیو ته وویل: "له مخالفینو سره د خبرو اترو لپاره یو عملي میکانیزم جوړ شوی، چې یوولس مادې لري او یوه ماده یې په وضاحت وایي، چې هیڅ مرجع نه شي کولای، چې د افغانستان له دولت سره له مشورې او رضایت پرته له مسلح مخالفینو سره خبرې اترې ترسره کړي."

د افغانستان د سولې عالي شورا وایي، افغانان باید له افغانانو سره خبرې وکړي. اسمعیل قاسمیار وویل، د طالبانو مشران او حکومت دې خپلې غوښتنې د مذاکرو په میز باندې مطرح کړي.

افغانستان د پاکستان نه بېلېدونکې...

امریکایانو پرضد جنګېږي، نه د پاکستان پرخلاف. پاکستان د دوی ملاتړ نه کوي خو پاکستان د دوی پرضد جګړه هم نه کوي. امریکایان غواړي چې پاکستان د افغان طالبانو پرضد هم وجنګېږي خو پاکستان دا کار نه کوي. پاکستان باید د راتلونکي لپاره پانګونه وکړي. د شمال ټلواله ایرانیانو ته نژدې ده، طالبان پاکستان ته نژدې دي. امریکا د ایرانیانو او پاکستانیانو ګډ تهدید دی او په افغانستان کې د هند حضور د ایرانیانو لپاره د اندېښنې وړ نه دی خو د پاکستان لپاره دی. پاکستان او ایران باید سره نژدې شي او امریکایان که غواړي چې له افغانستانه خوندي ووځي باید له طالبانو، همداراز له پاکستان او ایران سره خبرې وکړي او که نه وځي باید له انګریزانو زده کړه وکړي چې یوازې ډاکتر براېډن یې ژوندی پاتې شوی و.

پاکستان دې موږ ته د خپلو ...

حمله کې د ۲۴ پاکستاني پوځیانو وژل کېدو ته په اشارې، ویلي: له دې حملې تر ټولو لوی درس دا دی چې باید سرحدي همکاري زیاتې کړو او دا کار د دواړو خواوو ترمنځ اساسي اعتماد ته اړتیا لري.

د تېر نومبر له شپاړسمې نېټې را په دې خوا، چې د ناټو هیلي کوپټرو لا د پاکستان پرسرحدي پوستو برید نه و کړی، د سي آی اې له لورې د پاکستان پر قبایلي سیمو د بې پیلوټه الوتکو حملې درول شوي دي.

ماتیس په افغانستان کې د ناټو او امریکایي پوځیانو عمومي قومندان جنرال الن ته په خطاب کې ویلي چې د اشتباهي حملو د نه تکرارېدو لپاره اقدامات وکړي او د امکان په صورت کې په دې اقداماتو کې د پاکستان له پوخه همکاري وغواړي.

د امریکا پوځ د پاکستاني پوځیانو د وژل کېدو د پېښې په اړه د ېرش مخیز راپور چمتو کړی او په خپله ویبپاڼه کې یې خپور کړی دی.

په دې راپور کې، چې لنډیز یې د تېرې اوونۍ د پنجشنبې په ورځ خپور شو، ویل شوي چې امریکایي پوځیان نه ول توانېدلي چې د پاکستاني ځواکونو د پوستو موقعیت معلوم کړي خو حمله لومړی پاکستاني پوځیانو پیل کړې وه.

د پلټونکي پلاوي مشر سټېفن کلارک ویلي، کله چې د ناټو پر ځواکونو د پاکستان له سرحدي پوستو ډزې پیل شوې، دا ځواکونه (ناټو او افغان) له وسله والو طالبانو سره په جګړه بوخت ول.

ماتیس جنرال الن او په ډیورنډ کرښه کې د افغانستان، پاکستان او ناټو د همږغۍ ګډ مرکز ته امر کړی چې د پولې په دواړو خواوو کې د ټولو تاسیساتو او پوستو مالومات ژر تر ژره په دې مرکز کې راټول کړي.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولی یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"

مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې:

دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲

مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱

مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

- د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
- د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
- رالیږل شوي مطالب نه مستردېږي. - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله

آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، کابل - افغانستان

Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com